# ستاسو ژبه یوه ډالۍ ده

## د شتمنۍ پر بنسټ ژبې لپاره سپارښتنې




## د شتمنۍ پر برنسټ څه معنی لري.




تاسو ښايي له خپل ښوونځي څخه داسې اسناد ترلاسه کړي وي چې ستاسو زده کوونکی **د انګلیسي ژبې د زده کوونکي (ELL)** په توګه ځرګندوي. پداسې حال کې چې ستاسو ماشوم انګلیسي زده کوي، موږ وړاندیز کوو چې **د څو ژبو زده کوونکي** اصطلاح وکاروو، ترڅو هغه ژبې روښانه کړو چې ستاسو ماشوم پرې د خندونو پرځای د ډالۍ په توګه خبرې کوي.

هغه ژبه چې موږ یې کاروو پر دې تاثیر کوي چې نړۍ ستاسو ماشوم ته په څه نظر ګوري. لاندې مثالونه ښیې چې د Susannah ژبو ته څنګه د ډالۍ یا خنډ په توګه کتل کیدای شي.

## خپلې ژبې ته د خنډ په سترګه کتل<br>(د اړتیاوو پر بنسټ)

- Susannah د دوو یا ډیرو ژبو ترمنځ ګیچ شوې ده
- Susannah په انګلیسي ژبه کې یواځې د یو څو تورو په غږونو باندې پوهیږي
- د Susannah تلفظ دومره دروند دی چې هغه باید په انګلیسي پوه نه شي
- تاسو باید له Susannah سره یوازې په انګلیسي ژبه خبرې وکړئ څکه چې په نورو ژبو خبرې کول به د هغې د انګلیسي ژبې پرمختګ ورو کړي




## خپلې ژبې ته د ډالۍ په سترګه کتل<br>(د شتمنۍ پر بنسټ)

- Susannah د مطلب د وړاندې کولو لپاره خپلې ټولې ژبې کاروي
- Susannah د انګلیسي ژبې د یو څو تورو غږونه پیژني او د خپلې مورنۍ ژبې (ژبو) په بنسټیزو مهارتونو پوهیږي
- د Susannah تلفظ پر څو ژبو د هغې د خبرو کولو د ډالۍ یوه نښه ده
- له Susannah سره د هغې په مورنۍ ژبه خبرې کول به مرسته وکړي تر څو:
- هغه خپله مورنۍ ژبه او انګلیسي زده کړي او هغو ته اهمیت ور کړي
- له خپلې کورنۍ او کلتور سره خپلې اړیکې و ساتي




LEARNING, TEACHING
psesd
AND FAMILY SUPPORT